
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د نومبر دریمه | ۶۲۲مه گڼه

ځېره

۴ مخ



## ویلیم فاکنر

فاکنر مشهور امریکایي لیکوال دی چې د نوبل تر گټلو وروسته یې لوستونکي څو برابره شول. له همدې امله یې څو ناولونه گور په گور، د اگست میاشتې د سپوږمۍ رڼا او د غوسې او هیاهو ناول د انگلیسي ادبیاتو د شلمې پېړۍ په سلو غوره ناولونو کې راځي.

## کرنې وزارت: روان کال د ۲۳۳جریبه قوریو په جوړولو سره یو میلیون او ۹٦ زره نیالگي تولید شوي



د کرنې او مالدارۍ وزارت چارواکي وايي چې د ۲۳۳جریبه قوریو په جوړولو سره یې یو میلیون او ۹٦ زره نیالگي تولید کړې دي. چارواکو ویلي چې یادې قوریې په پنجشېر، دایکنډي، غور، فراه، هرات، بادغیس، کندز، بدخشان، ارزگان، کندهار، هلمند، لغمان، ننگرهار، کاپیسا، سرپل، فاریاب، جوزجان، سمنگان، پکتیکا، غزني، لوگر، میدان وردگ، او پروان کې جوړې شوې دي. همدارنگه د دوی په خبره، په روان کال کې ۲۲۲زره د چهارمغز او د جلغوزیو نیالگي د ۴۴۴ هکتاره بڼ لپاره په لغمان ولایت کې تولید شوې دي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان اقلیمي شرایطو ته په کتو، په گرمو سیمو کې د منې او پسرلي په موسم کې، خو په یخو سیمو کې بیا یوازې د پسرلي په موسم کې نوي نیالگي اېښودل کېږي.

د کرنې وزارت دغه راز زیاته کړې چې له یادو نیالگیو به د هېواد په گوټ گوټ کې لوی او کوچني باغونه جوړ شي.

# ظالمانه برید او د چارواکو اعتراف؛

## امرالله صالح: پر کابل پوهنتون برید زموږ لپاره لویه استخباراتي ناکامي ده




۳

پر کابل پوهنتون د ابوجهل د لارویانو برید

۲ مخ

لوېدیځ؛ له پیغمبر سره دښمني او د یوه امت د نجات ستراتېژي!

۲ مخ

که د افغان سولې خبرې ناکامې شي؛ بیا؟

۳ مخ

## ولسي جرگه: حکومت د نوماند وزیرانو د اسنادو په ارزونه کې همکاري نه کوي

ولسي جرگه حکومت تورنوي چې د نوماند وزیرانو د اسنادو په ارزونه کې همکاري نه کوي او وايي، تر سبا ورځې به د ټولو نوماند وزیرانو اسناد د دې جرگې له خوا بشپړ شي.

ولسمشر د نوي حکومت له جوړېدو شاوخوا اته میاشتې وروسته د تلې په ۳۰مه ۲۳ نوماند وزیران او د دوو عمومي ریاستونو نوماندان ولسي جرگې ته د باور رایې اخیستو لپاره معرفي کړل. د ولسي جرگې اداري پلاوي مخکې ویلي وو چې د دې جرگې پنځه دایمي کمېسیونونو ته دنده ورکړل شوې چې تر راتلونکې یوې اونۍ دې جرگې ته د معرفي شوو نوماند وزیرانو اسناد و ارزوي، څو دوی ته فرصت ورکړل شي چې جرگې ته خپل پروگرامونه وړاندې او د باور رایې ترلاسه کړي. د ولسي جرگې په پرونۍ ناسته کې د یادې جرگې یو شمېر غړو حکومت تورن کړ چې د نوماند وزیرانو د اسنادو د ارزولو په برخه کې همکاري نه کوي. د ولسي جرگې د عدلي او قضایي کمېسیون مرستیال خالد اسد د دې جرگې په پرونۍ ناسته کې وویل، دغه کمېسیون تېره اونۍ حکومت په ځانگړې توگه عدلي او قضایي ارگانونو ته څو مکتوبونه لېږلي، څو د نوماند وزیرانو د دوسیو په اړه معلومات ورکړي، خو حکومت تر اوسه هېڅ ډول همکاري نه ده کړې. د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني وویل، د پنځو کمېسیونونو د رییسانو کمېټې ته دنده سپارل شوې چې د نوماند وزیرانو د اسنادو ارزولو په تړاو ناسته وکړي، خو تر اوسه د یادو پنځو کمېسیونونو له خوا حکومت ته د لېږل شوو مکتوبونو ځواب نه دی ورکړل شوی.

## په هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې د تېرو اونیو په پرتله زیاتې شوې



۵ مخ

## نی: در سال جاری میلادی بیش از ۷۵ مورد خشونت علیهٔ خبرنگاران ثبت شده است



نهادهای حامی خبرنگاران می‌گویند که از آغاز سال جاری میلادی تا به حال، بیش از ۷۵ مورد خشونت علیهٔ خبرنگاران به ثبت رسیده است.

نهاد حمایت کنندهٔ رسانه‌های آزاد افغانستان (نی) می‌گوید که در کنار صدها پروندهٔ لت‌وکوب، بازداشت و توهین تحقیر علیهٔ خبرنگاران در ۱۹ سال گذشته ۱۳۲ مورد قتل خبرنگاران به ثبت رسیده است. احمد نصیر نوری، مسئول این نهاد می‌گوید که در نتیجهٔ دادخواهی نهادهای حامی خبرنگاران وضعیت ۱۱۵ مورد قتل خبرنگاران روشن شده و حکومت گفته است که ۱۷ مورد دیگر آن تحت بررسی قرار دارد.

به گفتهٔ آقای نوری، با توجه به گزارش حکومت افغانستان، از میان ۱۱۵ مورد قتل خبرنگاران به ۳۰ مورد آن رسیدگی صورت گرفته است، عاملان ۲۸ موردش در جنگ با نیروهای امنیتی کشته شدند، ۸ موردش تحت کشف نیروهای امنیتی قرار دارد و عامل برخی موارد دیگر آن مخالفان مسلح دولت به ویژه طالبان هستند.

او می‌افزاید که از آغاز سال جاری میلادی تا به حال بیش از ۷۵ مورد خشونت علیهٔ خبرنگاران به ثبت رسیده است که ۵ مورد آن قتل است.

او می‌گوید: «از جنوری ۲۰۲۰ تا به حال ۵ مورد رخ داده که یک مورد در غور، یک مورد در هلمند و ۳ مورد هم در کابل. در مجموع بیش از ۷۵ مورد خشونت می‌شود که شامل قتل، زخمی‌شدن، حمله به رسانه، توهین و تحقیر و لت‌وکوب، ربوده شدن از سوی مخالفان مسلح و بازداشت می‌شود.»

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریـــځ

### پر کابل پوهنتون د ابوجهل د لارویانو برید

په کابل پوهنتون کې د قضایي ستاژ پر مرکز په برید کې لسګونو محصلینو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. برید پرون په داسې حال کې وشو چې محصلین په ټولګیو کې پر زده کړو بوخت وو. دغه برید څو ساعته دوام وکړ چې د بریدګرو په وژل کېدو سره پای ته ورسېد. طالبانو برید غندلی او لاس لرل یې پکې رد کړي دي، خو حکومتي چارواکي یې د طالبانو کار ګڼي. ولسمشر غني ویلي چې ترهګرو په هلمند کې ماتې خوړلې، ځکه پر ملکي ادارو برید کوي، خو لومړي مرستیال یې دا د استخباراتو ستره ناکامي ګڼلې چې د دغه برید مخه یې نه ده نیولې.

دا لومړی ځل دی چې په تېرو شلو کلونو کې پر پوهنتون برید کېږي، خو تر دې وړاندې پر ښوونځیو، ښوونیزو مرکزونو، روغتونونو، جوماتونو او نورو داسې ځایونو هم بریدونه شوي دي. د ډېری دغو بریدونو پړه داعش اخیستې ده، خو تل دې ته د شک په سترګه کتل شوي چې په دې برید کې به داعش په رښتیا هم په یوازې ځان ښکېل وي. پر کابل پوهنتون وروستی برید بې سارې دی، چې یو وحشیانه، ظالمانه او غیر انساني کار دی. دا برید هغو استخباراتي کړیو پلان کړی و چې هېڅ ډول اسلامي او انساني ارزښتونه نه پېژني او نه ورته احترام لري. دوی خپل دغه برید د پوهې، علم او رڼا د دښمنانو او د جهالت او ابوجهل د لارویانو پر مټ وکړ چې د کابل پوهنتون لسګونه محصلین یې په خپلو وینو ولمبول.

بریدګر او د دغه برید طراحان وحشیان، ظالمان او د پوهې او علم دښمنان دي، چې په هېڅ دین او قانون کې یې دا عمل نه توجیه کېږي. له بده مرغه زموږ امنیتي اداري ونه توانېدلې چې مخکې له مخکې د دغو بریدونو مخه ونیسي. لکه چې د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح وایي، دا رښتیا هم یوه استخباراتي ناکامي وه، ځکه چې مخکې له مخکې باید د دغه ډول بریدونو مخه ونیول شي، ځکه چې له برید وروسته سخته ده چې کنټرول شي. د دغه برید د څرنګوالي او پوهنتون ته د دومره ډېرو وسلو او بریدګرو د لېږد په اړه هم ګڼې پوښتنې او شکونه شته چې پکار ده ځواب ورته وویل شي.

له بده مرغه له بله اړخه د دې پر ځای چې د دغه ډول بریدونو اصلي رېښې پیدا شي، مخه یې ونیول شي او اصلي لاملین یې پیدا شي، هڅه کېږي چې سیاسي استفاده ترې وشي او د هغو موخو لپاره ترې استفاده وشي چې خلک ورسره همغږي نه دي. حکومتي چارواکي ادعا کوي چې برید طالبانو کړی، خو په دې اړه یوازې ادعا بسنه نه کوي. طالبانو ډېر بریدونه کړي او په دې اړه خلک معلومات لري، خو که حکومت په دې اړه رښتیا هم اسناد او شواهد لري چې دا برید طالبانو کړی، پکار ده چې له خلکو سره یې شریک کړي، څو خلک پر حقیقت پوه شي. که حکومت د طالبانو او داعش د ګډ کار او اړیکو په اړه هم اسناد او شواهد لري، باید له خلکو سره شریک شي، ځکه چې ظاهرا طالبان له داعش سره په جګړه کې دي. خو که د دغه ډول بریدونو څخه سیاسي استفاده کېږي، د سولې پروسه پرې تخریبېږي او اوبه پرې خړېږي، دا نو بیا نه یوازې ناسمه کړنه ده، بلکې نور شکونه هم پیدا کوي.

اوس هغه وخت دی چې د دغه برید او طراحانو په اړه یې باید واضح خبرې وشي، حکومت دې خپل ټول اسناد او شواهد شریک کړي او طالبان هم که په دې اړه څه لري، باید له ولس سره یې شریک کړي. دا هغه لاره ده چې اصلي قاتلین او وحشیان پرې معلومېږي. له دې پرته تورونه او له بریدونو سیاسي او تبلیغاتي استفاده، نه یوازې دا چې د دغو بریدونو مخه نه شي نیولی، بلکې د قربانیانو له وینو سره هم غیر مسوولانه چلند دی.

# لوېدیځ؛ له پیغمبر سره دښمني او د یوه امت د نجات ستراتیژي!

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د لوېدیځ تاریخي مطالعه سړي دې پایلې ته رسوي چې د نړۍ د دې برخې وګړي له ټولو انساني تمدنونو، هویتونو، پرګنو، ادیانو، رنګونو او حتی خاوریني جغرافیې سره یو ډول لیونۍ دښمني، کینه، کرکه او نه پخلاه کېدونکې تربګني لري.

د بېلګې په توګه، که تاسو نوې کشف شوې امریکا ته چې اروپایانو د بې خلکو جنت نوم ورته کارولی، مطالعه کړئ او بیا هلته له سور پوټکو انسانانو سره د سپین پوټکي اروپایي انسان عقده، وحشت او له درندګۍ ډک نا انساني کردار او چلند وګورئ، نو دې پایلې ته به ورسېږئ چې لوېدیځ مېشته انسان د ټولو زړه راښکونکو او ښکلیو انساني ایډیالونو، ارمانونو او ګډو بشري باورونو پر خلاف د دې زغم، وړتیا او منلي سړیتوب ته ژمنتیا او رښتینولي نه لري، د کومو چې شعار ورکوي او نور ملتونه هغه ته رابولي.

د اروپا خپل منځه وحشتونه، د صلیبي جګړو په نوم د مذهبي جګړو څو پېړۍ بدرنګه اوړونه، درې نړیوالې امریکایي- اروپایي جګړې او بیا را وروسته د لسګونو ازادو ملتونو پر ازادیو تېري، غورځې، پرځې، د ملي او ولسي نظامونو نسکورول دا ټول په دې استدلال او دلالت کوي چې له انساني نړۍ سره د لوېدیځ او اروپایي انسان دښمني د نه پخلاینې وړ او له تراژیدیو ډکه کیسه ده.

د لا سپیناوي او وضاحت لپاره د مخکښو امریکایي تیوري کښونکو او پالیسي میکرانو هنري کسینجر، هانټینګټون او بریژني کتابونه او څرګندونې د یادونې وړ دي.

۱. فرانسه، د یرغل او نیواک بدنام تاریخ یې

تازه فرانسوي واکمن ایمانویل ماکرون په دغه هېواد کې د یوه مسلمان ځوان د هغه غبرګون له امله چې د اسلام د ګران‌قدر پیغمبر سپکوونکي کاریکاتور انځورونکی ښوونکی یې وژلی و، په نقد کې اسلام له ګواښ سره مخ دین یاد کړ او په فرانسه کې مېشته لږکۍ مسلمانه ټولنه یې په سخت دریځو ټولنیزو بندیزونو او عقیدوي سانسور ګواښلې.

هغه چې له دغه ګام سره فرانسوي پولیس د مسلمانانو کور او کارځایونو ته ورځي، هغوی تنګوي، له بې ځایه ټولنیز فشار سره یې مخ کوي او یو ډول ناوړه سیاسي- ټولنیز توپیر او کرکې سره یې مخ کړي.

بل لور ته اروپایي رهبرانو د مسلمانو ولسونو او حکومتونو د نیوکو او غبرګون پر خلاف، د فرانسې تر څنګ درېدلي، د بیان د ازادۍ په عنوان یې د چارلي ابډو مجلې له پسخند او ریشخند څخه ډک او سپکوونکي کاریکاتورونه ستایلي، دا یې د بیان د ازادۍ په نوم ګډ اروپایي ارزښتونه بللي او د اسلامي نړۍ د ملتونو له لوري یې د فرانسوي توکو د تحریم د کمپاین پر ضد د دغه هېواد د توکو د پیر تېر وهلی.

د اروپا دې دریځ په ډاګه کړه چې اروپا لا څومره صلیبي ده، اروپایان په اسلامي خاورو کې د سیکولاریزه کولو او الحادپالو هڅو او پروژو پر خلاف، په خپل منځ کې څومره تُندلاري مذهبي باورونه، دریځونه او له اسلامي او انساني نړۍ سره یو ډول بې رحمانه دیني تعصب لري.

د بېلګې په توګه، کله چې فرانسوي اشغالګرانو د الجزایر مسلمان هېواد په ۱۸۳۰ کال کې تر خپل اشغال او رسمي استعمار لاندې راوست او پر دغه مسلمان ملت یې د صلیبي- عیسوي فاشېزم او کرکې پر بنسټ ۱۳۲ کاله نیواکګرانه حکومت وچلاوه.

هغه چې په دغه اوږده له تورتم، ظلم او بربریت ډکه موده کې یې پراخې هڅې وکړې، چې د دې ستر او باعزمته مسلمان ولس دین، ژبه، کلتور، لیک لوست او حتی اسلامي- عربي هویت ورڅخه واخلي او په بدل کې یې د هغوی په فرانسوي بڼه بدلولو هڅې وکړې، هغه چې د دې لپاره یې بې شمېره کلیساګانې جوړې کړې او یا یې جوماتونه پر کلیساګانو بدل کړل، عربي ژبه او لیک یې له منځه یوړل او پر ځای یې فرانسوي لیک او ژبه دود کړه.

د یوه چیني ګرځندوی شینخ تخه په خبره، په الجزایر کې په دغه موده کې د دغه هېواد نیم وګړي یانې ۵.۵ میلیونه انسانان یوازې د دین او عربیت په ګناه د فرانسوي وحشتکارو او انسان خوړونکو اشغالګرانو له لوري چې نن ځان د انساني ارزښتونو، تمدن، کلتور او ګډو مدني حقونو باني بولي؛ په زړه بوږنوونکې او جنایتکارانه بڼه قتل‌عام کړل.

دوی یوازې په دغه زړه سختۍ او درندګۍ هم بسنه ونه کړه، بلکې د الجزایر د مخکښو دیني عالمانو، ولسي رهبرانو، ملي انقلابیونو او د الجزایر د عزت او آزادۍ د جګړې د زرګونو مخکښانو سرونه به یې د هغوی له تن او بدن څخه پرې کول او د (انسان) په نوم د پاریس ښار یوې موزې ته یې وړل او هلته به یې له ګډ اروپایي تمدن څخه د دفاع په ننګ په صلیبي موزه کې د انسان وژنې نمایش بل انسان ته کاوه.

د معتبرو نړیوالو رسنیو د مستندو څېړنیزو رپوټونو پر بنسټ، د فرانسې د انسان نومې صلیبي موزه کې یوازې د الجزایري ولس د (۱۸۰۰۰) انقلابي، ملي او دیني مخکښانو جمجې نمایش ته ښودل شوې وې.

د فرانسې اسلام دښمنه او نا انساني چلند یوازې تر الجزایر پورې محدود نه دی، بلکې تر هغه وړاندې چې په ۱۷۹۸ کال کې فرانسویان مصر ته د دغه هېواد د نیواک په موخه ننوتل، نو د دوی جنرالانو خورا استعماري غرور درلود، دوی په دغه موده کې د مصر خلکو او ارزښتونو ته یې له هېڅ راز سپکاوي، وېرې اچولو او درندګۍ څخه مخ وانه ړاوه، بلکې ملنډې یې پرې وهلې، ازهر چې په اسلامي نړۍ کې ستر تاریخي دیني مرکز دی او د ځانګړي علمي ارزښت او درناوي څخه برخمن دی، دوی د خپل پوځ د اسونو د درېدو ځای ترې جوړ کړ.

فرانسې په افریقا کې د جنایاتو او وحشتونو د بدنام تاریخ سربېره د ایران په خلاف د عراق په لمسولو کې هم پراخه ونډه لرله، صدام ته یې زهرجنې وسلې ورکړې، فرانسوي پیلوټان یې د روسي ـ عراقي جنګي الوتکو د الوځولو لپاره ورته راولېږل او حتا په ۲۰۱۱ کال کې په لیبیا د ناټو د ګډ غربي یرغل پرمهال په دغه اسلامي هېواد کې یې بې شمېره جنایتونه وکړل، بنسټیز تاسیسات یې بمبارد کړل او یو له هغو جهتونو څخه ده چې تر اوسه د لیبیا د ځمکني وحدت او سیاسي ټیکاو په لاره کې د خپل ځانګړي اسلام ضد لیدلوري پر غرض نوې ستونزې او ټکرونه راپاروي.

۲. فرانسه او دوه ګوني معیارونه یې

په اسلامي خاورو باندې د فرانسې او لوېدیځ د غصب، یرغل او قتل عام د یوه بدنام او تور پړاو تر تېرېدو وروسته، اوس غرب په دې هڅه او فکر کې دی چې د مخامخ اشغال ترڅنګ باید د فرهنګي یرغل او له اسلام څخه د وېرې او کرکې نوی سیاست هم په لاره واچوي، ترڅو د اسلام د نرم ځواک، بدیل او انساني ځانګړنو او په ځانګړې توګه د سولې او امن د ځواکمن پیغام مخه ډب او پیکه کړي.

هغه چې په دې برخه کې د سویس، ډنمارک او فرانسې هېوادونه د اسلام او ګډو انساني ارزښتونو د دښمنانو په یوه امن او مصئون چاپېریال بدل شوي دي.

د بېلګې په توګه، دوی څو کاله وړاندې چارلي ابدو مجلې ته اجازه ورکړله چې د اسلام د ګرانقدر پیغمبر نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته د سپکاوي کاریکاتورونه وکاږي.

د فرانسې دغه ناوړه چارې په اسلامي نړۍ کې د پراخو ناخوښیو او ولسي غبرګونونو سبب شوې، مسلمانانو له فرانسوي واکمنو د سپیناوي او د نورو ادیانو او ولسونو ارزښتونو ته د یوه متمدنې ټولنې په توګه د درناوي کولو تمه لرله، ولې فرانسوي واکمن او اروپایي مشران د سپکاوي کوونکو ترڅنګ ودرېدل، د هغوی په ریشخند او توهین ولاړ کار یې د بیان آزادۍ په نوم وستایه، ملاتړ یې ترې وکړ او د اسلام سره د دښمنۍ، د اسلام د کم راوستلو او د مسلمانانو د منزوي کولو کمپاین یې په لاره واچاوه.

حال دا چې د دې په مقابل کې که څوک په فرانسه یا هر بل اروپایي او غربي هېواد کې د هولوکاسټ اړوند علمي څېړنه کوي، دوی هغه غندي، د حقیقت څخه انکار یې ګڼي، د یوه ولس د سرښندنو سپکاوی یې ګڼي او دغه ډول څېړونکي محکمې ته راکشوي او د بې شمېره ټولنیزو بندیزونو سره یې مخ کوي.

دا دوه مخي، د مور ـ میرې چلند او په ټوله کې فاشیستي توپیرونه او تناقضات د دې ښودنه کوي چې د دوی اصلي ستونزه له اسلام، د اسلام له مخ پر لوړ نرم ځواک او په ټوله کې د اسلام د عزت او عزمت له لارې د مسلمانانو له یووالي او بیا په پایله کې د غربي تپل کړي نظم او یواړخیزه نړیوال فرعونیت د راپرځېدو، ماتې او درې وړې کېدو څخه ده.

ځکه که خبره د غربي ایډیالونو او ارزښتونو د دریځ شي، نو دا څنګه ممکن، معقول او منطقي ده چې په یوه هېواد کې دې د زرګونو میلیوني امت د ارزښتونو، مقدساتو او تر ټولو لوړو اعتقادي بنسټونو د سپکاوي حق خوندي وي، قانوني دې وي او د اروپا په نوم یوه پوره لویه وچه دې ورڅخه ملاتړ وکړي، د جګړې تر بریده دې مخکې لاړ شي، ولې په یوه بله کاذبه کیسه یانې هولوکاسټ دې دومره ټینګ ودرېږي چې بیا نه د بیان آزادۍ ځای لري، نه د بشر آزادي مانا ولري او نه د مډرنیته سېکولر موجونه دې کار وکړي.

۳. څه کول پکار دي؟

د فرانسوي واکمن ایمانوېل مکرون د اسلام دښمنو دریځونو خلاف د ګڼ شمېر مسلمانو ملتونو له لوري د فرانسوي توکو سره پرېکون او د فرانسوي واکمن دې ته اړایستل چې د یوې اونۍ دننه سپیناوي ته حاضرېدلو، دا وښوده چې که په اسلامي نړۍ واکمن رهبریتونه او حکومتونه لږ هم د خپلو ملتونو د ننګ او اوچت فرهنګي ویښتابه سره مله شي، نو د اسلامي امت روان بد حالت به ډېر ژر بدلون ومومي، د استعمار توري لړې به ټولې شي او امت به یوځل بیا د خپل ارمانجن زرین پړاو د عزت او عزمت دریځ ته وګرځي.

ځکه هغه پرېمانه اقتصادي شتمنۍ، جغرافیوي فرصتونه، انساني وړتیاوې، ارماني ځواک، ایډیالوژیک ملاتړ او پراخه نړیواله بشري اړتیا چې د لوېدیځ د درواغجن تمدن، بدنام تهذیب، اشغالګریو، ظلم، بربریت او وحشتونو له امله د نړیوال نظم په دریځ تپل شوي دي، نړیوال انسان او بېلابېل تمدني بشري استعدادونه یې له ګواښ، ناخوښۍ او د تباهۍ تر درشله له مرګ او محکومیت سره مخ کړي دي.

د دغه ظرفیت د پاللو، پنځولو او بشپړتیا په لار کې تر ټولو مهم او عملي ګامونه د مسلمانو ملتونو ترمنځ د مذهبي توپیر پرځای دیني وروروليۍ ته کار کول، په خپلمنځي دردونو غلبه کول، د اسلامي خاورو څخه د پردو جګړو او اورونو د بسترونو ټولول، د مسلمانو حکومتونو ترمنځ د مشترکاتو رغونه او پر ستراتېژیکو ټکرونو غلبه، د تکفیری ډلو منزوي کول او په ټوله کې د اروپايي ټولنې، اروپایي ګډې جرګګۍ او د شمالي اتلانتیک یا ناټو او په اقتصادي ډګرونو کې د ګډو اقتصادي منظمو او اغېزمنو بدیلونو رامنځته کول دي.

اسلامي نړۍ کولای شي په دې برخه کې د چیني او نورو له لوېدیځه په تنګ او جنګ ټولنو څخه هم د خپلې ښې سبا او نړیوالې عادلانه رهبرۍ او نظم په ټوکولو، جوړولو او رغولو په برخه کې مدبرانه ګټه واخلي.

ځکه ترڅو چې د نړیوال رهبریت او چلېدونکي نظم هویت تعریف نه شي، کمزوری او دردېدلي ملتونه د دریځ څښتنان نه شي او نړۍ ته عادلانه رهبریت اعاده نه شي، تر هغه د لوېدیځ سړیتوب ته د راګرځېدو او د اوسني فرعوني چلند د سمون تمه لرل محال ده. مګر اسلامي نړۍ د دې هر څه د بدلون، تنظیم او رهبریت پراخ واک او ظرفیت لري.

# که د افغان سولې خبرې ناکامې شي؛ بیا؟

لیکنه: هاشم وحدتیار / ژباړه: بسم الله پښتون مل

تېره میاشت د افغان حکومت او طالبانو تر منځ په لومړي ځل د سولې مخامخ خبرې په قطر کې پیل شوې، دواړه لوري ټینګار کوي چې د هېواد د اوږدې جګړې د پای ته رسولو لپاره د سیاسي جوړجاړي لپاره صادق دي.

د خبرو په پیل کې د افغان حکومت د مذاکره کوونکي پلاوي مشر معصوم ستانکزي وویل: «موږ به خپله پېژندګلوي له چپې خوا پیل کړو.» په ځواب کې د طالبانو د پلاوي مرستیال عباس ستانکزي په لوړ غږ وویل: «تاسې تل کارونه له چپې خوا کوئ؛ خو موږ مجاهدین یې له ښي اړخه پیلوو.»

په همدې دوو جملو بین الافغاني خبرې پیل شوې، اوس د دواړو لوریو تر منځ خبرې د تړلو دروازو تر شا رواني دي، افغان حکومت هڅه کوي چې طالبان د اوسني حکومت په چوکاټ کې ورګډ کړي؛ خو دغه ډله حکومت نامشروع او د امریکا له خوا جوړ شوی ګڼي او ادعا کوي چې د افغان ملت استازیتوب نشي کولی.

طالبان په دې باور دي چې امریکا ته یې ماتې ورکړې ده او کله چې متحده ایالات له افغانستان څخه خپل پوځیان وباسي، دوی به افغان حکومت هم رنګ کړي او ټول هېواد به تر خپل واک لاندې راولي. د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمایي کې د امریکا-طالبانو پر موافقې سربېره، د یوناما اداري په افغانستان کې د ۳۴۵۸ ملکیانو د مرګ ژوبلې ارقام ثبت کړي دي. ولسمشر ټرمپ په یو ټویټ کې ویلي، غواړي تر کریسمس وړاندې امریکایي سرتېري له افغانستان څخه وباسي.

که امریکایي پوځیان نه وي او د سولې خبرې ناکامې شي؛ افغانان وېره لري چې بیا به څه کیږي؟

که د سولې خبرې نتیجه ورنه کړي، لاندې پایلې به ولري:

لومړی: افغانستان به د سوریې پر برخلیک اخته شي

د امریکا- طالبانو د موافقې پر اساس طالبانو ژمنه کړې وه چې د پنځو زرو طالب بندیانو له خوشې کېدو سره به بین الافغاني مذاکرات پیلوي او تاوتریخوالی به کموي؛ خو اوس که خبرې نتیجه ورنه کړي، طالبان به کوښښ وکړي چې د زور له لارې واک ته ورسېږي او د دې هدف د پوره کېدو لپاره به په ټول هېواد کې له افغان امنیتي ځواکونو سره جګړو ته زور ورکړي.

تېره میاشت په قطر کې مېشت طالب چارواکي سي بي ایس ټلوېزیون ته وویل، امریکا او افغان حکومت دویم پلان نه لري؛ خو برعکس طالبان یې لري او که چېرې د سیاسي جوړجاړي هڅې ناکامې شي، د دوی دویم قدم به په زور د واک تر لاسه کول وي. بل خوا ویل کیږي چې د سولې د خبرو د ناکامۍ په صورت کې شمالي ټلواله هم له طالبانو سره د جګړې په فکر کې ده. تېره میاشت طلوع ټلوېزیون د ولسمشر له لومړي مرستیال امرالله صالح څخه په شمال کې د طالبانو خلاف د وسلو د وېش په اړه پوښتنه وکړه؛ خو نوموړي دا خبره رد کړه.

طالبان د امریکایي پوځیانو په موجودیت کې کابل نشي نیولی، افغان حکومت او واشنګټن په خپلو کې امنیتي تړون لري چې پر اساس یې متحده ایالات د افغانستان ملي ځواکونه تمویل او تجهیزوي؛ خو د طالبانو ځواک او لوړ مورال ته په کتو به دا کار هم یوازې د شخړو د لا ډېرښت سبب شي.

طالبان چې اوس د مخکې په نسبت د جنګ په میدان کې ډېر پیاوړي دي، ناټو ته ماتې نه شي ورکولی، طالبان د افغان حکومت د رنګېدو او د ټول واک د اخیستلو لپاره ورځې شمېري. بلخوا طالبان په نړیواله کچه ځان مطرحوي او له سیمه ییزو ځواکونو په ځانګړې توګه روسیې، چین او ایران سره یې ځان نږدې کړی دی.

دویم: افغانستان به د متحده ایالاتو لپاره لومړیتوب نه وي

د ۲۰۱۸ کال په جولای میاشت کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ زلمی خلیلزاد د افغانستان لپاره خپل ځانګړی استازی وټاکه او په دې توګه د افغان سولې بهیر پیل شو. په دې اقدام سره ټرمپ غوښتل په راتلونکو ټاکنو کې خپلې رایې زیاتې کړي؛ خو له ټاکنو وروسته که ټرمپ بریالی هم شي، نور به د افغانستان د سولې پروسه د هغه لپاره لومړیتوب نه وي.

همدارنګه د متحده ایالاتو حکومت به دا فکر کوي چې په افغانستان کې د جګړې له شدت سره دوی ته زیان نه رسیږي.

له ۲۰۱۳ کال راهیسې چې افغان ځواکونو د خپل هېواد ساتنې مسوولیت اخیستی، امریکایي عسکر له طالبانو سره مخامخ جګړه نه کوي؛ څکه نو د تلفاتو وېره یې نشته. په همدې ترتیب په افغانستان کې د امریکا مصارف د پام وړ توګه را کم شوي دي. د بېلګې په توګه، په ۲۰۱۱ کال کې دوی ۱۰۷ میلیارده ډالره مصرف کړي وو، خو په ۲۰۱۹ کال کې یې لګښتونه ۵۲ میلیارده ډالر وو، دا مصارف به نور هم کم شي؛ څکه د ۲۰۲۰ کال په نومبر میاشت کې به د امریکایي عسکرو شمېر له ۹۸۰۰ څخه ۴۵۰۰ ته ټیټ شي.

پورته دلایلو ته په کتو به سپینه ماڼۍ په دې فکر کې شي چې نور د ټرمپ د حکومت لپاره افغانستان په لومړیتوبونو کې نه دی.

درېیم: افغانستان به د تروریزم مرکز شي سیمه به هم ګواښي

په ۲۰۱۵ کال کې د داعش- خراسان څانګه تاسیس شوه. دوی به د ایران او منځنۍ اسیا لور ته خپل حضور نور هم زیات کړي. داعش- خراسان د ایران او شیعه ګانو ضد ده. دوی شیعه ګان کافران ګڼي او تر اوسه یې زرګونه په همدې نوم وژلي دي، په ایران کې د ډېرو بریدونو په کولو او د ډېرو ایرانیانو په وژلو سره د داعش دغې څانګې ایران ته ژور سرخوږی جوړ کړی دی.

د ۲۰۱۸ کال په سپټمبر کې داعش- خراسان د ایراني پوځیانو پر رسم ګذشت برید وکړ چې د نظامي افسرانو په ګډون یې ۲۵ تنه ووژل. د ۲۰۱۷ کال په جون میاشت کې د ایران پر پارلمان په حمله کې ۱۲ تنه ووژل شول او ۴۶ نور یې ټپیان کړل. اوس که ایران د سوله ییز افغانستان په جوړولو کې مرسته ونه کړي، د سولې خبرو له ناکامۍ وروسته به د داعش- خراسان څانګه پر ایران لا نور بریدونه هم وکړي. د داعش پیاوړتیا مرکزي اسیا هم ګواښي، د روسیې د فدرالي امنیت اداري مشر الکساندر بارتینکوف تاجکستان ته د سفر پر مهال وویل، له افغانستانه د داعش- خراسان څانګې تهدید شته او دغې ډلې خپل ۵۰۰۰ جنګیالي د افغانستان په شمال او د مرکزي اسیا په جنوب کې ځای پر ځای کړي دي. له ۲۰۰۸ تر ۲۰۱۸ کال پورې ترهګرو په منځنۍ اسیا کې ۱۹ بریدونه کړي چې اکثرو کې یې داعش- خراسان لاس درلود او شاوخوا ۱۴۰ تنو ته یې مرګ ژوبله اوښتې ده. تېر کال د نومبر په میاشت کې داعش د تاجکستان- ازبکستان پر پوله امنیتي پوسته په نښه کړه او ۱۷ تنه یې ووژل. مسکو او منځنۍ اسیا د داعش له پراختیا څخه اندېښنه لري.

دا یوازې د داعش- خراسان څانګه نه ده؛ بلکې ډېرې نورې د ترهګرو او یاغیانو ډلې هم رامنځ ته کېدونکې دي. په ۲۰۰۱ کال کې چې امریکا پر افغانستان برید وکړ، یوازې القاعده وه؛ خو اوس د افغانستان په جګړه کې د ښکېلو ډلو شمېر تر شلو اوړي.

دایمي سولې ته د رسېدو لپاره د افغان حکومت او طالبانو تر منځ رواني خبرې د ټولو لوریو لپاره تاریخي فرصت دی. که دا پروسه ناکامه شي، ناوړه پایلې به یې هم ټولو ته متوجه وي. امریکا باید افغانستان داخلي جنګونو ته ټېل نه وهي، که یې ټېل واهه، لرې نه ده چې دغه هیواد به یو ځل بیا د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱ یوولسمې د بریدونو په څېر وي. که سیمه ییزو اندېښنو ته وکتل شي، افغانستان اړ نه دی چې له ګاونډیانو د سولې خیرات وغواړي؛ بلکې سیمه ییز هېوادونه باید د خپل خوندیتوب په خاطر د سولې په پروسه کې صادقانه رول ولوبوي؛ څکه د ناامنه ګاونډي په موجودیت کې د دوی ثبات هم امکان نه لري.

د سولې خبرو د ناکامۍ له ناوړه پایلو طالبان هم استثنا نه دي، څکه ټرمپ کېدای شي په یو حیرانوونکي ټویټ کې له قطر نه ګوانتاناموته د طالب مشرانو د وړلو امر وکړي.

# ظالمانه برید او د چارواکو اعتراف؛

## امرالله صالح: پر کابل پوهنتون برید زموږ لپاره لویه استخباراتي ناکامي ده

په هېواد کې د وحشتونو او خونړیو بریدونو او پېښو په دوام وسله والو ترهګرو تېره ورځ په کابل پوهنتون کې خونړی برید وکړ. کابل پوهنتون د هېواد په کچه ستر علمي او اکاډمیک مرکز دی چې تر ډېره یې امنیتي تدابیر هم سخت دي، خو بیا هم وسله وال بریالي کېږي چې دغه مرکز ته د ننه شي او د پرونۍ خونړۍ پېښې سبب شي. افغان چارواکو بیا هم د تېر په څېر دغه پېښه وغندله او هغه یې وحشتناک عمل وباله. د ولسمشر لومړي مرستیال بیا وویل چې دغه پېښه په استخباراتي برخه کې د ښکاره کمزورۍ او ضعف په مانا ده.

پرون له غرمې مخکې په کابل پوهنتون کې زرګونه محصلین یوې چاودنې ووېرول. د پوهنتون اداري له دوو دروازو محصلینو ته د وتلو امر وکړ او په لومړي سر کې داسې فکر کېده چې ښایي وړه پېښه وي او چاته تلفات وا نه وړي، زرګونه محصلین له دروازو او دېوالونو په تېښته بریالي شول، خو وروسته معلومه شوه چې وسله والو ګڼ محصلین د کابل پوهنتون په ستاژ مرکز کې برمته کړي دي. عیني شاهدان وایي چې وسله وال درې کسه وو، د یاد مرکز د شا لخوا چې دا لار د کابل پوهنتون له لیلیې سره وصلېږي، دغه مرکز ته راغلي او دهلېز ته له ننوتو سره سم پر هر مخ کېدونکي کس ډزې کوي.


دوی څو ساعته په دغه مرکز کې وژل او ډزې کوي، تر دې چې ساعتونه وروسته ځانګړي ځواکونه سیمې ته رسېږي او د دوی پر ضد عملیات پیلوي. مازیګر مهال عملیات پای ته رسېږي او کورنیو چارو وزارت وایي چې د وسله والو په وژل کېدو سره دغه برید پای ته رسېدلی دی، دوی هم د وسله والو شمېر درې کسه ښودلی دی. د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق آرین شاوخوا پنځه بجې په یوه خپاره کړې پیغام کې وویل: ((پر کابل پوهنتون د ترهګرو وحشتناک برید د دریو وسله والو په وژل کېدو سره پای ته ورسېد، ۱۹ کسه شهیدان دي او ۲۲ نور ټپیان شوي دي)). ځینو نورو سرچینو بیا رسنیو ته د مړو او ټپیان شمېر تر دې هم لوړ ښودلی دی. په دې ډله کې ټول تنکي ځوانان محصلین او د یاد مرکز خدمه شامله ده.

وسله والو طالبانو تر برید نیم ساعت وروسته په یوه پیغام کې وویل چې پر کابل پوهنتون په وروستي برید کې لاس نه لري، خو بلې کومې ډلې تر اوسه د برید مسوولیت نه دی منلی. ولسمشر غني د تل په څېر برید غندلی دی او په دې خبره یې ځان خلاص کړی چې ګواکې ترهګرو په هلمند کې ماتې خوړلې او په کابل کې د خپلې ماتې غچ اخلي.

د ولسمشر لومړي مرستیال بیا د لومړي ځل لپاره په دې اقرار کړی دی چې د افغان حکومت استخباراتي اداره او معلومات کمزوري دي. نوموړي دغه برید غندلی دی او زیاته کړې یې ده دا د طالبانو او د هغه د فکري لارویانو د فکر او جوړښت ویجاړي او وحشت ښیي. هغه وایي: ((پر کابل پوهنتون برید زموږ لپاره یوه استخباراتي ناکامي او انساني فاجعه ده. دا برید د طالبانو او د هغو د فکري لارویانو د وجدان مرداري ښیي، دا حمله نن او بل هېڅ وخت هېڅ ډول توجیه نه لري)).

امرالله صالح داسې مهال په حکومت کې د ناکامۍ خبره کوي چې له څو اونیو راهیسې د کابل د امنیت مسوول دی او هره ورځ د خپلو نوو پرېکړو په اړه معلومات خپروي چې تر ډېره د امنیت په ځای د ښار پر پاکولو او ترافیکي مسایلو راڅرخي.

نړیوالو هم پر کابل پوهنتون د تېرې ورځې برید په کلکو ټکو غندلی او هغه یې وحشیانه عمل بللی دی. ملګرو ملتونو، اروپايي ټولنې، ناټو او د بشري حقونو کمېسیون هم د دې برید د غندنې تر څنګ له ښکېلو اړخونو د تاوتریخوالي بندېدو او اوربند غوښتنه کړې ده.




په کابل پوهنتون کې داسې مهال وحشتناک او بې مخینې برید کېږي چې امریکا له طالبانو سره د سولې هوکړه لاسلیک کړې ده او تمه دا وه چې دا هوکړه به دلته د ځوانانو او ملکي وګړو د وژنې بهیر ختم کړي، خو اوس له دې بریدونو او خونړیو جګړو سره د سولې له هوکړې خلک ناهیلي شوي دي. د ولسي جرګې غړو تېره ورځ په عمومي غونډه کې د سولې پروسه د امریکا له لوري د افغانانو او نړیوالو د تېر ایستنې لوبه وبلله او په خبره یې خلیلزاد د یوه ماهر لوبغاړي په توګه پر روان وحشت پټه خوله دی خو یوازې د ټرمپ د بریا لپاره یې زرګونه افغانان د کمپاین او خونړیو پېښو قرباني کړل.

# علییف: تر هغې چې ارمنیان له نګورنو قره باغ ونه وځي، جګړې ته دوام ورکوو

په داسې حال کې چې په لانجمنه سیمه نګورنو قره‌باغ کې د اذربایجان او ارمنستان جګړه شپږمې اونۍ ته ورسېده، د اذربایجان ولسمشر په تازه خبرداري کې له دې سیمې د ارمني ځواکونو پر وتلو ټینګار کړی دی.

دا خبرداری په داسې حال کې ورکول کېږي چې علییف او د اذربایجان نورو لوړرتبه چارواکو د متحد هېواد ترکیې له یوه استازي سره کتلي دي. په همدې حال کې اذربایجان او ارمنستان یو او بل په تازه بریدونو هم تورنوي.

دا په داسې حال کې ده چې د سپټمبر پر ۲۷مه په لانجمنه سیمه نګورنو قره‌باغ کې د جګړې له پیله ارمنستان په دې سیمه او شاوخوا ساحو کې د ۱،۲۰۰ پوځیانو او ملکیانو د وژل کېدو خبر ورکړی دی.

د دې سیمې اکثریت اوسېدونکي ارمنان دي، خو دا سیمه رسماً د اذربایجان د خاورې برخه ده. بل خوا اذربایجان که څه هم د خپلو پوځیانو د وژل کېدو خبره نه‌ده کړې، خو ویلي یې دي چې په روانو جګړو کې یې ۹۱ ملکیان وژل شوي او ۴۰۰ نور ټپیان شوي دي.

په ورته وخت کې نړیوالو ادارو د خوشه یي بمونو د کارولو په اړه خبرداری ورکړی چې کولای شي تر ډېره ملکیان زیانمن کړي.

په همدې حال کې د نړۍ د کاتولیک عیسویانو رهبر پاپ فرانسېس د خپلې اونیزې دعا پر مهال په نګورنو قره‌باغ کې د روانې لانجې په اړه خواشیني وښودلې ده. هغه زیاته کړې: «په دې ځانګړې ورځ باید دا خبره هېره نه کړو چې په غرنۍ سیمه نګورنو قره‌باغ کې نښتې روانې دي او په غمووونکې توګه د قربانیانو د زیاتېدو، د کورونو، زېربناوو او عبادتځایونو د ویجاړۍ سبب کېږي او ملکیانو ته زیان رسوي. ډېره غمووونکې ده».

په نګورنو قره‌باغ کې ارمنیانو پر اذربایجان تور پورې کړی چې پر ماتوني ښار او نورو ساحو یې پرله پسې راکټي بریدونه کړي دي.

خو د اذربایجان دفاع وزارت وایي، د ارمنستان ځواکونو د دوی پر هغو سنګرونو چې په نړیواله سطحه د په رسمیت پېژندل شوي سرحد په اوږدو کې پراته دي، دغه‌راز پر تارتار او اغجابیدي ملکي ساحو حملې کړې دي.


د دواړو لورو تازه ادعاوې د خپلواکو سرچینو له‌خوا نه دي تایید شوي او د کره‌والي معلومول یې ګران کار دی. د اذربایجان ولسمشر الهام علییف له لانجمنې سیمې نګورنو قره‌باغ د ارمنستان د ځواکونو پر ایستل کېدو ټینګار وکړ او خبرداری یې ورکړی که د روانې کشالې د حل لپاره مذاکرې نتیجه ورنه کړي، د اذربایجان ځواکونه تر پایه جګړې ته چمتو دي.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او اډېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه
### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک




دورانی: کله چې حمیدګل د ISI مشر و، د ۱۹۸۸ کال ټاکنې یې څارلې. زه په MI کې وم. هغه وویل چې د خلکو ګوند به ټاکنې وګټي او د پام وړ کرسیو ترلاسه کولو ته به ځان ور نږدې کړي. خو په پنجاب او سند ایالتونو کې د خلکو ګوند د رایو په اړه د حمیدګل اټکل ناسم و. نوموړي اټکل کړی و چې په سند کې به د خلکو ګوند رایې لږې وي، خو برعکس هلته یې تر ټولو زیاتې ګټلې وې. په پنجاب کې یې د ډېرو کرسیو د ګټلو وړاندوېینه کړې وه، په داسې حال کې چې هلته یې رایې ډېرې کمې وې.

سېنها: هغه مهال د «یېږ لومه» کتاب زما په څېر د ډېرو ژورنالېستانو لپاره تورات و.

دورانی: د یېږ لومه په څېر ډېر کتابونه شته چې د ځانګړو موخو لپاره لیکل شوي دي. همدومره به بس وي چې زه یې وایم. د هغه موخه دا ده چې پر یوه ځانګړي شخصیت یا وخت خبرې وکړي. دا پر یوې ستونزې بدلېږي. کله چې کتاب خپور شو، فکر کوم زما په وخت کې، زموږ یو ملګری راغی او کتاب یې راته وښود. هغه وویل چې څه ورسره وکړو، ایا کس ونیسو، محکمه کې ورته دوسیه جوړه کړو او که رد یې کړو؟ ما وویل: کېدای شي کتاب یو ۲۰ کسانو لوستی وي، خو که موږ دا کار وکړو، نو ښایي خبر یې ۲۰۰ کسانو ته ورسېږي. زه له داسې شیانو سره جوړ نه یم چې ښایي هېواد یا هم زموږ ادارې ته زیان ورسوي. زما سم یاد ته نه راځي چې هغه وخت موږ څه شی ومومندل چې باید څېړل شوي وای، خو یوه کس وویل چې پرېږده چې دا کار وشي. په ټوله کې، هغه څه چې ته وایې، په منځپانګه کې یې داسې مهم څه شی نه وو، لکه څنګه چې په خپله کتاب و. همدارنګه کتاب ډېر ښه لیکل شوی چې یو بهرنی پکې ښکېل و. د لیکوال محمد یوسف د کار په اړه به مو اورېدلي وي. هغه د افغان جهاد پر مهال د جنرال اختر عبدالرحمن تر مشرۍ لاندې د ISI د افغانستان څانګه رهبري کوله.

سېنها: دا چې ISI د پوځ برخه ده، کېدای شي یو څوک چې پوځي زده کړې ونه لري، د دې سازمان په لوړو پوستونو کې کار وکړي؟


دولت: اجازه راکړئ چې سپینه یې ووایم، موږ ښایي په دې دنده یو څه زیات اوسو.

دورانی: موږ په دې برخه کې بې تجربې وو. په استخباراتي بیرو (IB)، ځانګړو څانګو او پولیسو کې تجربه او دوام دواړه شته.ISI د بېلابېلو دلایلو له مخې مشهوره شوه - لکه د افغانستان جګړه او په داخل کې پوځي واکمني - خو یاد سازمان ځینې اداري ستونزې لري. زه نظامي استخباراتو ته هغه وخت لاړم چې ماینس ټریم افسر وم او بیا له هغه ځایه ISI ته لاړم ځکه چې په دواړو برخو کې دخیل وم. دا یو عادي کار نه و. د ISI او پوځي استخباراتو (MI) زیاتره مشرانو د استخباراتي کار مخینه نه لرله. کله چې په یوه دنده کې په کار باندې پوه شې، بیا نو ژر پرمختګ کوې. دا په لومړي سر کې یوه خلا رامنځته کوي، که څه هم په پوځ کې دې ته د یوه تحول یا جریان په سترګه کتل کېږي. یوازې د هوایي ځواکونو یو افسر و چې ISI یې پرېښوده او استخباراتي بیرو (IB) ته ولاړ. ډېر لږ کسان دا کار کوي، ځکه چې د حکومت په چوکاټ کې په IB کې تر ډېره پولیس یا ملکي کادرونه کار کوي، ځینې پوځي متقاعد افسران هم پکې شته چې د یادې اداري مشري یې هم کړې، خو دا یوه استثناء ده. موږ سړی نه و هېر کړی، خو په استخباراتي بیرو کې د هغه دنده د قناعت وړ وه. په زړه پورې خبره پکې دا وه چې یو وخت یې له سیاسي مشرتابه سره اړیکې خرابې شوې او پر کور کېنول شو، خو معاش یې جاري و او خوله یې ورته بنده کړې وه. لیکلو، لوستلو او نورو کارونو ته هڅول کېده. په پوځ کې به داسې نه کېدل. امان الله ګیلګېټي د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په ۲۷ مه د کنټرول کرښې په اوږدو کې له مظفر اباد څخه تر چکوټي پورې د خپلو پلویانو یو لاریون تنظیم کړ. زه هم ور سره وم. امنیتي ځواکونو خلک نه پرېښودل چې د کنټرول کرښې ته نږدې ورشي، زه لاړم او هغوی ته مې ځان معرفي کړ. هلته یوه منځپوړي افسر ودرولم او راته یې وویل: ښاغلیه! ته پخوا هلته وې، خو اوس نه یې.

دولت: دا ډول پېښې تل واقع کېدلې. ښایي په ښکاره څه ونه وایي. خو کله چې له سیستم څخه بهر شوې، بیا دې څوک خبرو ته غوږ نه نیسي. **دوام لري...**

# ویلیم فاکنر

شفیق امیرزی



ویلیم کاتبېرت فاکنر یا ویلیم فاکنر امریکایي ناول او کیسه لیکوال دی. هغه په امریکا کې خورا مشهور دی او د دې هېواد د پیاوړو لیکوالانو په کتار کې راځي. هغه یې په امریکا کې د ښکلو لنډو او پیغام لرونکو کیسو، ځانګړي سبک او د بیان ځانګړې بڼې مشهور کړی دی. د هغه کیسې تر ډېره د ژوند خپلې تجربې دي. له همدې امله خلکو ته په زړه پورې دي. فاکنر غوښتل په پوځ کې وي، خو حکومت ورسره ونه منله، هغه یې په تنه کوچنی او ډنګر وباله، خو دا هر څه یې په خیر وو، له وړو وړو لیکنو دومره مشهور شو چې ان د نوبل جایزه یې وګټله.

ویلیم فاکنر په ۱۸۹۷ز کال کې د میسي سي پي ایالت په نیو الباني کې زیږېدلی دی. هغه نن سبا په نړیواله کچه د داستاني ادبیاتو په برخه کې وتلی نوم دی. په ځانګړې توګه د امریکا په جنوب کې خورا مشهور دی او اثار یې د ارزښت وړ دي. د هغه روایت ښکلی، خو پېچلی دی. همدې زړه راښکون، رمزونو، رازونو او پېچلتیا د امریکا په داستاني ادب کې ستر تحول راوست. د هغه اثار تر ډېره د ټولنې عیني واقعیتونه انځوروي. په هغه وخت کې د مریېتوب ستونزې، تبعیض، طبقاتي اندونه او نژادپالنه هغه موضوعات دي چې د فاکنر په اثارو کې غندل شوي او بدې پایلې یې انځور شوې دي. هغه نه یوازې دا شیان غندلي؛ بلکې د خپل ژوند مهم توکي او خاطرې یې په ډېر ښه انداز انځور کړې دي.

فاکنر وایي چې په ژوند کې یې متفاوت او ډول ډول افکار د لومړي ځل لپاره د ماشومتوب او نوې ځوانۍ پر مهال ذهن ته ورغلل. دی وایي، لا د اوو کلونو و چې له امریکا او د امریکا د تاریخ له لوست سره یې مینه پیدا شوه. تر ټولو ډېر یې غوښتل د جنوبي امریکا په اړه ځان پوه کړي او د دې سیمې د خلکو په فرهنګ او ادبیاتو کې رالوېېده. بیا چې کله د لیکلو او لیکوالۍ شو، نو تر ډېره یې د جنوبي امریکا پېښې په خپلو کیسو کې انځور کړې دي چې دی یې هم لامل له دې سیمې سره د خپل ماشومتوب مینه او بلدتیا یادوي. د ده په وده او پرمختګ کې یې مور تر ټولو ډېره ونډه لرله. مور یې هڅه کوله چې د خپل زوی استعداد وغوړوي، د لویو لیکوالانو کتابونه یې ورته لوستل، هڅه یې کوله چې زوی یې په خپله ځینې کتابونه ولولي، د شکسپیر او چارلز ډیکنز په څېر د مشهورو لیکوالانو لوست یې د مور په لارښوونه او مرسته پیل کړی و.

د نورو ټولنو د لیکوالانو اثار یې هم مطالعه کړل. له همدې ځایه بیا د تفکر له نوو بڼو او د خلکو له ډول ډول فکرونو سره اشنا شو. ده په نوې ځوانۍ کې هم له شعر او شاعرۍ سره خپله مینه ساتله او د مشهورو شاعرانو لکه جان دل او نورو لوست ته یې مخه کړه. ویلیم ویلي وو چې یوازې جان دل نه؛ بلکې د هغه مهال د مشهورو او لویو شاعرانو اثار د دې سبب شول چې د ده فکر وغوړېږي.

د فاکنر د فکري پراختیا اصلي بنسټ په ماشومتوب او نوې ځوانۍ کې اېښودل شوی او اوس همدې افکارو په پنځه ویشت کلنۍ کې د ده د ژوند مسیر ټاکلو. په همدې وخت کې یې لار د ادبیاتو په لور شوه او په دې برخه کې خورا شهرت او لوړو ځایونو ته ورسېد. هغه د لومړي ځل لپاره په یوه مجله کې خپل یوه ټوټه شعر خپور کړ. له دې وروسته محلي لوستونکي د هغه مینه وال شول. د ده شعرونه به یې لوستل او ورور ورو یې شعر د پوخوالي مرحلې ته ننوتو؛ خو وروسته په دې پوه شو چې یوازې د شعر له لارې خپلو موخو ته نه شي رسېدلی. فاکنر په دې باور و چې که دی غواړي شتمن شي او د لیکلو له لارې خپل ژوند تامین کړي، نو شعر یې لار نه ده او باید نثر ته مخه کړي. له همدې وروسته یې لومړی وړې وړې کیسې لیکلې، خو وروسته یې د لوړو او اوږدو کیسیو لیکلو ته مخه کړه. هغه همداسې لکه ده چې غوښتل مشهور او پیاوړی کېده. لوستونکي او مینه وال یې ډېرېدل او په دې سره یې هنر د پوخوالي او پیاوړتیا په لور روان و. د هغه کیسې تر ډېره د خپل وخت د مشهورو ستونزو په اړه وې. اصلاحي افکار یې درلودل او د کیسو په قالب کې یې ستونزې، د ستونزو حل، تاریخي پېښې او اصلاحي افکار وړاندې کول.

معمولاً یې په کیسو کې یو مشهور کرکټر وي. هغه له جګړو سترې پوځي وي چې له جګړې راګرځېدلی او له هر څه ستړی دی. په همدې لړ کې د خپل یوه ملګري په ملاتړ چې اندرسون نومېده، د سرتېري د مزد یا (Soldier's Pay) په نامه یو ناول چاپ او بازار ته ولېږه. په دې وخت کې امریکا له سختو ستونزو سره مخ وه او ځینې یې د امریکا د رکود دوره هم بولي. ویل کېږي چې دا کیسه تر ډېره د فاکنر پر ژوند راڅرخي. هغه مهال چې ده غوښتل سرتېری شي، خو پوځ یې د وزن د کموالي له امله له منلو ډډه وکړه. خو په دې کیسه کې د امریکا ناوړه ټولنیز وضعیت، د خلکو ژوند، پوځي مسایلو او ټولنیزو ستونزو ته کتنه شوې ده او نقد ورباندې شوی دی.

ویلیم فاکنر له پنځه دېرش کلنۍ وروسته بریالی شو چې ۱۹ ناولونه، ۳ د کیسو ټولګې، ۳ شعري ټولګې او یوه ننداره چاپ کړي. ویلیم فاکنر د ادبیاتو په ډېرو برخو کې اثار لري. له همدې امله په ۱۹۵۰ز کال کې د نوبل بنسټ دې پایلې ته ورسېد چې د همدې کال جایزه ویلیم فاکنر ته ورکړي. د نوبل جایزه د دې سبب شوه چې فاکنر په نړیواله کچه مشهور شي او اثار یې د پخوا په پرتله څو برابره لوستونکي پیدا کړي. د نوبل تر ګټلو وروسته یې پولیټزر جایزه هم وګټله چې دا هم په امریکا او نړۍ کې د ادبیاتو په برخه کې خورا مشهوره جایزه ده. البته فاکنر د پولیټزر یوه جایزه د خپل ژوند پر مهال ګټلې ده او بیا یې د ده تر مرګ کلونه وروسته دوو اثارو هم د پولیټزر جایزې ګټلې دي. اوس د مډرن کتابتون له لوري د فاکنر د غوسې او هیاهو کتاب د انګلیسي ژبې د سلو غوره کتابونو شپږم کتاب بلل شوی دی. دی د هغو کم شمېر هنرمندانو له ډلې دی چې له اثارو یې په سینما کې هم اقتباسونه شوي دي. فاکنر په نړۍ کې مشهور امریکایي لیکوال دی چې د نوبل تر ګټلو وروسته یې لوستونکي څو برابره شول. له همدې امله یې څو ناولونه ګور په ګور، د اګست میاشتې د سپوږمۍ رڼا او د غوسې او هیاهو ناول د انګلیسي ادبیاتو د شلمې پېړۍ په سلو غوره ناولونو کې راځي. غوسه او هیاهو یې بیا په دې لېست کې شپږم ځای لري. سره له دې چې د نثر په برخه کې د فاکنر جملې او لیکنې ځانګړی سبک او مینه وال لري؛ خو د شعر په برخه کې دومره مشهور نه دی. هغه خپل استعداد پېژندلی و چې له شاعرۍ یې لیکوالۍ ته مخه کړه. سره له دې چې شعرونه یې هم لیکل، خو شعر یې لکه نثر هومره پوخ نه و.

فاکنر لیکل د سرتېري له مزد (Soldier's Pay) پیل کړل. له همدې کتاب وروسته یې خپل بل کتاب (غوماشې) په ۱۹۲۷ز کال کې چاپ کړ. د دې کتاب تر چاپ وروسته د لوستونکو پام د فاکنر هنر ته ور واوښت او لوستونکي یې ډېر شول. د غوسې او هیاهو ناول یې هم په ۱۹۲۹ز کال کې چاپ کړی دی. د همدې کتاب تر چاپ وروسته یې شهرت لا ډېر شو، د دې کتاب د شهرت د اوج پر مهال یې د سرتوري په نامه بل ناول هم ولیکلو. په دې کتاب کې یې د امریکا په جنوب کې په میسي سي پي کې د انفصال یا بیلتون جګړو ته کتنه وکړه او د دې جګړې پر مهال یې د امریکایي ټولنې وضعیت انځور کړ. په دې کتاب کې دی خپل دا باور څرګندوي چې د شریفو خلکو نسل د جګړې او وژنو له لارې ختم شوی دی او پر ځای یې بدو او نجسو خلکو واکمني جوړه کړې ده. درې کاله وروسته یې د معبد په نامه خپل تر ټولو خشن او له تاوتریخوالي ډک ناول هم خپور کړ. دا کتاب ښه وپلورل شو او ښه مشتریان یې پیدا کړل. نن سبا یې اثار په امریکا کې دومره پلور نه لري؛ خو د فرانسې د روښنفکرې ټولنې تر منځ ځانګړې محبوبیت لري.

ویلیم فاکنر ځانګړی سبک لري. دې سبک ته جریاني یا د ذهني جریان سبک وایي. په دې سبک کې کرکټر ځینې خارق العاده عادتونه او چلندونه لري چې دی د همدې په وسیله اصلاحي افکار وړاندې کوي او په ټولنه کې ستونزې نقدوي. ځینې بیا وایي چې فاکنر د اروپایي مدرنیزم تر اغېز لاندې و. همدا راز یې د ټولنې د ډېرو عیني واقعیتونو او مسایلو په اړه بې اندازې بدبیني لرله. ځینې بیا نیوکه ورباندې کوي چې سبک او لیکنې یې له غوسې او وحشتناکو صحنو ډکې دي. په انځورکښنه کې یې د بدن د غړو پرې کول او نور ورته مسایل ډېر واضح انځور کړي، چې ویروونکي هم دي. دی یوه بله ځانګړنه هم لري، هغه دا چې داستان په عادي توګه په عادي زمانه کې مخ ته نه وړي. معمولاً کیسه له پایه پیلوي، یانې د پېښې له وروستۍ برخې مو د پېښې پیل ته راولي. لومړی ستره غوټه لري، خو ورو ورو لوستونکی د داستان سپړلو او غوټې خلاصولو ته له ځان سره بیایي.

د فاکنر تر ټولو ډېر مشهور اثر غوسه او هیاهو دی. د هغه پر همدې ناول ډېر نقدونه او لیکنې شوې دي. په دې ناول کې د یوې کورنۍ مسئلې روایت دي. دی د نارینه حاکمې کورنۍ وضعیت ارزوي او د یوې خور په اړه یې د دریو وروڼو چلند او فکر واضح کړی دی. د کیسې په لومړي سر کې یې د نجلۍ معصومیت، بې وسه توب، کورنۍ ستونزې او پر ځان نه باور انځور کړی دی. د هغه دا اثر د فیمینستي افکارو لېږدوونکی هم بلل کېږي. هغه په لومړي سر کې د یادې نجلۍ ستونزې واضح کړې دي او وروسته یې دا کرکټر پیاوړی کړی دی او دې ته یې هڅولې چې له خپلو حقوقو دفاع وکړي. دا ناول یې په خورا ښه بڼه لیکل دی، ښکلي انځورونه، تعلیمي نقل قولونه او اخلاقي درسونه لري.

ویلیم فاکنر پیاوړی لیکوال و. لومړی یې شعر لیکلو ته مخه کړه، خو کله چې پوه شو چې ښه نه پکې چلېږي، نو نثر لیکل یې پیل کړل. له وړو کیسو دومره پیاوړی شو چې د نوبل او پولیتزر جایزې یې وګټلې. اوس هم په ټوله نړۍ کې مشهور لیکوال دی. کتابونه یې د انګلیسي ژبې په مهمو او غوره کتابونو کې راځي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې لسګونه لوستونکي لري. فاکنر له دې ټولو لیکنو او ویاړونو وروسته یوه ورځ په مسي سي پي کې د آس سپرلي کوله چې له آس ولوېد او ټپي شو. له همدې پېښې درې اونۍ وروسته په ۱۹۶۲ز کال کې د جولای په شپږمه ومړ. په امریکا کې خاورو ته وسپارل شو او ویل کېږي چې له لوېدلو وروسته زیانمن شوی و، بیا جوړ شو، خو درې اونۍ وروسته یې زړه ودرېد او ومړ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۹۰ |
| € | ۸۹,۲۰ |
| Rp. | ۴۷۵ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,۲۰ |

### بیړنی شمیري

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# یوازې تاسې دوه ځلې ژوند کوی؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

هغه پېښې چې له دې ټکر وروسته له ما سره وشوې، رښتیا هم د منلو نه وې او ځینې دا پېښې خو بیخي معجزې وې. د پېښې ساحې ته امبولانس راغلی و او په ځانګړو وسایلو سره یې زه له موټره راښکلی وم. له هغه وروسته چې زه یې له موټره راښکلی وم، ډېره وینه مې له بدنه تللې وه، زړه مې حرکت پرې ایښی و او ساه ویستل او اخیستل مې هم بند شوي وو. ظاهراً په سترګو مړ معلومېدم.

متخصصانو د هلیکوپټر د ننه زما د ژوندي پاتې کېدو لپاره هڅې کړې وې، هغوی ما ته نجات راکړی و. شپږ دقیقې وروسته هغوی بریالي شوي وو، زما زړه بیا پر حرکت راغلی و، خدایه شکر! زه ژوندی پاتې شوی وم.

زه شپږ ورځې په کوما حالت کې پاتې شوی وم او کله چې په هوښ راغلم، خبر شوم چې نور ممکن هېڅ وخت هم ونه شم کړای چې پر لاره پیاده ولاړ شم. په روغتون کې له اووه دوره‌يي تمرین وروسته چې هلته مې پر لاره تلل تمرینول، بیا اصلي دنیا ته را وګرځېدم او نور په کور کې د مور او پلار تر مراقبت لاندې وم.

۱۱ هډوکي مې مات شوي وو، مغز مې سخته ضربه خوړلې وه او مېرمن مې چې زه په روغتون کې وم، له ما جدا شوې وه، هغې بلې دنیا ته کډه کړې وه. په داسې شرایطو کې ما هېڅکله بیا نه شوای کولای چې خپل تېر ژوند یو ځل بیا تجربه کړم، خو باور وکړئ، دا زما لپاره یوه ښه پېښه وه. له نوو شرایطو سره جوړ راتلل راته یو څه سخت وو او ځینې وخت خو به مې په دې اړه هېڅ فکر نه شوای کولای چې ولې داسې پېښه راسره وشوه. په هر صورت، باید بیا ژوند ته راګرځېدلی وی او د هغه ټول مسوولیت او فعلي شرایط مې منلي وی.

ما وویل، خپله انرژي باید پر بې ګټو موخو ونه لګوم او ټول تمرکز پر دې وکړم چې له فعلي شرایطو ښه استفاده وکړم. ما نه شوی کولای چې تېر وخت بدل کړم، همدا وو چې د ورځني وضعیت پر ښه والي مې تمرکز وکړ. له دې پېښې وروسته ما خپل ټول عمر دې ته وقف کړ چې د خپلو بالقوه وړتیاوو په واسطه خپلو موخو ته ورسېږم او پوهېږم چې څنګه کولای شم دا توانایي په خپلو شاوخوا کسانو کې پیدا کړم.

له دې پېښې وروسته زه دې پایلې ته ورسېدم چې حقیقتاً باید د خدای پاک په ټولو راکړل شوو نعمتونو باید د زړه له تله شکر وباسم. د ځینو خیزونو لرل ومنم او هغو څیزونو ته د رسېدو مسوولیت پر خپله غاړه واخلم چې زه ورته رسېدل غواړم. په دې دلیل، فکر کوم هغه ویرانوونکې پېښه زما په عمر کې تر ټولو ښه هغه یې وه چې زما په حق کې وشوه.

زه باور لرم چې هېڅ یوه پېښ هم په ژوند کې بې دلیله نه رامنځ ته کېږي او موږ باید ښه او بد دلایل، د ټولو پېښو، ننګونو او د ژوند د شرایطو لپاره ومنو. له همدې ذهنیته په ګټې اخیستنې، ما وشوای کړای چې ژوند ته ببرته په بریالۍ توګه را وګرځم.

۲۰۰۰ ز کال: هغه کال چې زه یې په پیل کې په روغتون کې بستر وم او د لاس پښو هډو کې مې مات شوي وو؛ خو د دغه کال پای بیا له پیل سره کاملاً متفاوت و. د موټر نه درلودل، لنډمهالې او ناقصه حافظه او ټولې هغه بهانې چې ممکن زه یې په کور کې قرار کېناستلو ته هڅولی وی، یوه یې هم را باندې بریالۍ نه شوه، زه له دې ټولو ستونزو سره سره بیا هم خپل مخکیني شرکت «کاتکو» ته د کار کولو لپاره ور وګرځېدم. ما تر ټولو خپل ښه کاري کال تجربه کړ او د کال په پای کې مې وشوای کولای چې د ۶۰۰۰ کار کوونکو له منځه د یو فعال پلورونکي مقام خپل کړم. دا ټولې پېښې راسره هماغه وخت وشوې چې زه هماغه کال په روحي، ذهني، جسمي او همدارنګه په مالي لحاظ بیا پر خپلو پښو د را ولاړېدو په حال کې وم.

۲۰۰۱ ز کال: د ژوند درسونو ته په کتو چې تجربه کړي مې وو، اوس هغه وخت را رسېدلی و چې له هغو زحمتونو چې د خپلو موخو او ببرته ښه ژوند ته د ورګرځېدو لپاره مې ایستلي وو، باید د نورو د الهام، انګېزې او د هغوی له پیاوړي کولو ګټه واخلم. دا کار مې په دبیرستان او کالجونو کې د وینا په واسطه له نورو سره د خپل تېر شوي ژوند له شریکولو پیل کړ. زما د دې وینا پر وړاندې د پروګرام د ګډون کوونکو برخورد ډېر مثبت و او زه یې دې ته وهڅولم چې پر ځوانانو اغېز د خپل ځان لپاره تعریف کړم.

۲۰۰۲ ز کال: د جان برګوف په نوم یو نږدې ملګري مې دې ته وهڅولم چې پر ژوند د اغېز او نورو ته په الهام ورکولو سره، د هغې پېښې چې له ما سره وشوه، په اړه یو کتاب ولیکم.

ما هم پر دې باور وکړ او د کتاب پر لیکلو مې شروع وکړه. د دې کار په هماغه لومړیو کې مې لیکل بس کړل، ځکه زه یو ښه لیکوال نه وم، حتی د دبیرستان په وخت کې راته د انشاء لیکل ډېر سخت وو، تاسې خو د کتاب لیکل ښیی. له پرله پسې زیاتو هڅو وروسته چې تل به له نااميدۍ سره مخ وم، بالاخره دې نتیجې ته ورسېدم چې کولای شم کتاب ولیکم.

په همدې کال کې ما د دویم ځل لپاره وشوای کړای چې د کاتکو شرکت په لسو ښو پلورونکو کې را شم.

۲۰۰۴ ز کال: په ساکرا منتو ښار کې د کاتکو شرکت د څانګې د مدیریت پر غاړه اخیستو لپاره مې خپله وړتیا و ازمویله. د کال په اخر کې زما ټیم وشوای کولای چې د دې شرکت په تاریخ کې د ریکارډ په ډول، تر ټولو د ډېر پلور نوم خپل کړي. د دې کال په اخر کې ما په شخصي ډول وشوای کولای چې د نورو کلونو په پرتله ډېر پلور وکړم او په ټوله کې مې وشوای کړای چې د خپل شرکت نوم د خلکو د خبرو موضوع کړم.

په دې احساس سره چې غوښتل مې په کاتکو شرکت کې ټولو څیزونو ته لاسرسی پیدا کړم، هغه وخت را ورسېد چې د خپلې موخې په تعقیبولو سره مې وشوای کولای چې د بریا په برخه کې پر نورو د ښې اغېزې لرونکې وینا په لټه پسې ووځم. ممکن د کتاب لیکلو لپاره چې څو کلونه مې په زړه کې وو، اوس مې ورته کاپي وخت او تمرکز درلود.

د ۲۰۰۵ ز کال فبروري میاشت: هغه وخت چې په کاتکو شرکت کې د یو کنفرانس پر مهال د نورو په منځ کې ناست وم او داسې مالومېده چې دا به مې په دې شرکت کې اخري کنفرانس وي، یو ناڅاپه مې ذهن ته یوه دردناکه موضوع راغله: ما مې هېڅکله له خپلې وړتیا څخه په ښه ډول ګټه نه ده اخیستې. دا سمه ده چې څو جایزې مې ګټلې دي او مخکیني ریکارډونه مې مات کړي دي، خو هغه وخت چې په صندلۍ کې ناست وم او د «رولکس ساعت» شرکت له دوو ښو پلورونکو یو زه وم، داسې حس مې کاوه چې زه کاملاً یو ژمن کس نه وم. حد اقل تر یو کال پورې زه ښه باوري نه وم، نه مې شوای کولای چې په داسې شرایطو کې شرکت پرېږدم او زه د ښه احساس ولرم. باید یو کال نور هم په کاتکو کې پاتې شوی وی، ولې دا وار مې باید ټوله انرژي کار کولو ته ځانګړې کړې وی.

۲۰۰۵ ز کال: له نورو موخو سره سره مې د پلور دوه چنده کېدل د ځان لپاره هدف وټاکل. دا کار یو څه راته له ننګونو ډک و، خو زه بیا هم پوره پرې باوري وم چې دا کار به وکړای شم. همدارنګه مې پرېکړه وکړه چې زه به په دې کال کې کتاب لیکم او خپل تېر ژوند به له خلکو سره شریکوم. دا ټول کال پر کار کولو او لیکلو مصروف وم او په داسې یو نظم او ترتیب سره مې سر ته ورساوه، چې د خپل عمر په تېرو ۲۵ کلونو کې مې تر اوسه داسې نظم نه و تجربه کړی. له کار کولو سره مې د تېر په پرتله ډېره مینه درلوده. پر ښه ژوند د معمولي ژوند د بدلولو لپاره مې پر ځان ریسک ومانه. د کال په اخر کې خپلو دواړو هدفونو ته ورسېدم، هم مې د پلور کچه دوه برابره کړه او هم مې کتاب ولیک. اوس کولای شم چې په جرئت سره ووایم چې «که ژمن او متعهد یاستی، هرڅه ممکن دي.»

تاسې ته په دې نړۍ کې همدا یو ځل د ژوند چانس درکړل شوی دی، کوښښ وکړئ چې له دې چانس ښه استفاده وکړئ او ټولو هغو موخو ته ورسېږی چې هره ورځ ستاسې په زړه کې د پوره کېدو غوټې وهي.

## کډوالو چارو وزارت: د هلمند او کندهار د جګړو له کبله له ۱۱ زرو ډېرې کورنۍ بې ځایه شوې

کډوالو چارو وزارت وايي، په هلمند او کندهار کې د وروستیو جګړو له امله ۱۱۲۵۰ کورنۍ له خپلو سیمو څخه بېځایه شوې دي.

د یاد وزارت د ویاند مرستیال رضا باهر ویلي چې په هلمند کې د وروستیو جګړو له امله ۷۲۵۰ کورنۍ د هلمند مرکز لښکرګاه ته کډه شوي دي. نوموړي زیاته کړې چې د کډوالو چارو وزارت د مرستندویه موسسو په مرسته د بېځایه شوو کډوالو لپاره یو کمپ چمتو کړی دی.

هغه ویلي چې د پاتې بېځایه شوو کډوالو سروې هم روانه ده چې په وینا یې، د یاد وزارت او موسساتو لخوا به مرستې ورسره وشي. د کډوالو چارو وزارت د ویاند مرستیال همدارنګه زیاته کړې چې د هلمند په ګاونډ کندهار ولایت کې هم د وروستیو جګړو له امله څلور زره کورنۍ بېځایه شوې دي.

د نوموړي په وینا، د یادو کډوالو له ډلې دوه زره یې د کندهار په میوند او پاتې دوه زره نور په ارغنداب ولسوالۍ کې بېځایه شوي دي. باهر ویلي چې د ارغنداب ولسوالۍ له ۱۳ کلیو څخه په مکمل ډول کورنۍ د یادې ولسوالۍ مرکز او کندهار ښار ته کډه شوې دي.

نوموړي زیاته کړې: «د کندهار په ارغنداب ولسوالۍ کې د وروستیو جګړو له امله دوه زره کورنۍ له خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي، له ۱۳ کلیو څخه په مکمل ډول خلک بېځایه شوي دي، د ولسوالۍ مرکز او کندهار ښار ته راغلي، دوی د طالبانو د بریدونو له امله سیمه پرېښې ده.»

هغه ویلي چې د دوی وزارت په کندهار کې د بېځایه شوو کورنیو لپاره د مرستې رسولو بهیر پیل کړی، خو په وینا یې، په ارغنداب ولسوالۍ کې د جګړې دوام بېځایه شوو کورنیو ته د مرستې رسولو بهیر له ستونزو سره مخ کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په هلمند او کندهار ولایتونو کې له تېرې شاوخوا یوې میاشتې راپه دېخوا جګړو زور اخیستی دی. د افغانستان دفاع وزارت او ځایي چارواکو په یادو ولایتونو کې د وسله والو طالبانو پر وړاندې د پرمختګ خبر ورکړی او هم یې له هغوی څخه د ځینو سیمو د بېرته نیولو خبر ورکړی دی، خو ځایي اوسېدونکي وايي چې د هوا سړېدو د بېځایه شوو کورنیو ستونزې نورې هم ډېرې کړې دي.

## عثماني: په هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې د تېرو اونیو په پرتله زیاتې شوې

عامې روغتیا وزارت وايي چې کرونا ویروس د تېرو اونیو په پرتله په هېواد کې مخ په ډېرېدو دی او مثبتې پېښې یې زیاتې شوې دي.

له یاد وزارته په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، د عامې روغتیا وزارت سرپرست وزیر ډاکتر احمد جواد عثماني په یوه خبري ناسته کې وویل چې په هېواد کې د کرونا پېښې د تېرو اونیو په پرتله مخ په ډېرېدو دي.

د نوموړي په وینا، که څه هم په هېواد کې د کرونا ناروغۍ پېښې ډېرې شوې، خو د ګاونډیو هېوادونو په پرتله کمې دي او د خلکو ترمنځ له دې اړخه باید هېڅ وېره شتون ونه لري؛ ځکه چې وېره په خپله د معافیت سیستم کمزوری کوي.

په دې ناسته کې همدارنګه عثماني په لازمي ډول د ماسک پر استفادې ټینګار کړی او پر خلکو یې غږ کړی چې د کرونا ویروس د مخنیوي په پار روغتیایي سپارښتنې، په ځانګړې توګه د ماسک تړل دې په جدي ډول عملي شي.

د عامې روغتیا سرپرست وزیر په روغتیایي مرکزونو کې د کرونا ویروس د دویمې څپې د مخنیوي په برخه کې د وزارت د اقداماتو په اړه ډاډ ورکړی او ویلي یې دي چې د کابل او ولایتونو په ټولو روغتونونو کې د کرونا ناروغانو لپاره درملنې څانګې جوړې شوې او روغتونونه د امکاناتو او اسانتیاوو له اړخه سمبال شوي دي. له بلې خوا ډاکتر عثماني په ایران او پاکستان کې د کرونا وضعیت د اندېښنې وړ بللی او پر خلکو یې غږ کړی چې یادو هېوادونو ته دې له غیر ضروري سفرونو ډډه وشي. د عامې روغتیا وزیر د خصوصي لابراتوارونو د څارنې په اړه ویلي چې د خصوصي لابراتوارونو دندې د عامې روغتیا وزارت له خوا په جدي ډول څارل کېږي او که دوی د کرونا د ټېسټ پایلې په وړاندې کولو کې سرغړونه وکړي، نو قانوني چلند به ورسره وشي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د نومبر درېیمه | ۶۲۲مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲۵ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۸ |
| ۲ | ٤ | ۱۰ | ٦ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۱ | لمر ختل ۰٦:۱۵ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:۳۷ | ماښام ۰۵:۰۰ | ماخوستن ۰٦:۲۵

## نړۍ



علییف: تر هغې چې ارمنیان له نګورنو قره باغ ونه وځي، جګړې ته دوام ورکوو

۳

## راپورونه: په بېلاروس کې د وروستي لاریون پرمهال سلګونه اعتراض کوونکي نیول شوي



د راپورونو له مخې، په بېلاروس کې امنیتي ځواکونو د اعتراض کوونکو پر وړاندې د وروستیو ځپونکو اقداماتو په ترڅ کې په پلازمېنه مېنسک کې له ۲۰۰ زیات کسان نیولي دي.

دا په داسې حال کې ده تازه زرګونو کسانو په مېنسک کې په لاریون کې ګډون کړی و او له واکه د الکساندر لوکاشینکو د لېرې کېدو غوښتنه یې کوله.

په بېلاروس کې دغه اعتراضونه په اګسټ میاشت کې د ولسمشرۍ د لانجمنو انتخاباتو پر سر چې لوکاشینکو یې ګټونکی اعلان شوی، پیل شوي دي. لاریون کوونکي تور پورې کوي چې اوسني ولسمشر په ټاکنو کې درغلي کړې او باید له واکه لرې شي، خو لوکاشینکو بیا دا تورونه ردوي او ټینګار کوي چې دی د هېواد قانوني ولسمشر دی.

په ورته وخت کې د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان وایي، کره شواهد شته چې د دغو ټاکنو په نتیجه کې لاس وهنه شوې ده.

دغه سازمان په یوه راپور کې چې دوې ورځې وروسته به یې د خپلو دایمي غړیو شورا ته وړاندې کوي، دغه راز ویلي چې د بېلاروس امنیتي ځواکونو د سوله‌ییزو اعتراض کوونکو پر وړاندې په منظم ډول له بشري حقونو سرغړونې ترسره کړې دي، خو د بېلاروس حکومت بیا دغه تورونه نه مني.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر ۲۰۷ زره او ۱۳۴ کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۴۷ میلیونو ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۲۰۷ زره او ۱۳۴ کسان مړه شوي او له نږدې ۳۴ میلیونه تنو ډېرته رغېدلي دي.

د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا وبا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نهه میلیونه او ۴۸۰ زره او ٦٦۵ ته رسېدلې او ۲۳٦ زره او ۵۱۹ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

تر امریکا وروسته هند د کرونا ویروس د اته میلیونه او ۲۴۲ زره او ۱٦۱ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۵۴۵ زره او ۷۰٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د یو میلیون او ٦۵۵ زره او۳۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د یو میلیون او ۴۱۳ زره او ۹۱۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

### مجمع جهانی وحدت اسلامی مالیزیا:

## جنگ جاری در افغانستان غیر شرعی می باشد

وزارت امور خارجه افغانستان گفته است که مجمع جهانی وحدت اسلامی مالیزیا در یک نامهٔ، جنگ جاری در افغانستان را غیر شرعی خوانده است.

در خبرنامه ای مطبوعاتی این وزارت آمده است، به سلسله فتواهای علمای کرام و مراکز اسلامی جهان، مجمع جهانی وحدت اسلامی مالیزیا که یکی از موسسات معتبر اسلامی در این کشور است، ادامهٔ جنگ و خشونت در افغانستان را محکوم کرده و این جنگ را غیر شرعی خواند.

منبع افزوده است، این مجمع اسلامی با ارسال یک مکتوب عنوانی سفارت جمهوری اسلامی افغانستان در کوالالامپور، خواهان حل این بحران از طریق گفتگو و مذاکره، شده است.

دراین مکتوب تذکر شده است که مجمع جهانی وحدت اسلامی برای صلح، وحدت، انکشاف اقتصادی و سرمایه گذاری در کشورهای اسلامی فعالیت می نماید. در خبرنامه آمده است، وزارت امور خارجه، از ابراز نظر و اصدار اعلامیه مجمع جهانی وحدت اسلامی کشور دوست و برادر جمهوری مالیزیا و اقدام صلح‌خواهانه این سازمان اسلامی، ابراز سپاس و امتنان کرده، کاهش خشونت‌ها و آتش‌بس فوری را که خواست برحق دولت و مردم افغانستان است، برای کامیابی مذاکرات جاری و برقراری صلح و ثبات دایمی در کشور، امر مهم و حیاتی می داند.

گفتنی است که چندی قبل علما و مشایخ کشور بنگله دیش نیز در یک گردهمایی جنگ جاری در افغانستان را حرام دانسته بودند.

عزیزی بانک
Azizi Bank

## د افغانستان پهٔ بانکي سکتور کې د عزیزي بانک د غوره بانک پهٔ توګه ټاکل کېدل



عزیزي بانک ویاړ لري چې د مدرن میتود له لوري د سروې پر بنسټ په افغانستان کې د غوره بانک په توګه وټاکل شو. په هغو مراسمو او نندارتون کې چې د ۲۴ غوره شرکتونو او بانکونو د معرفي لپاره ترسره شول، عزیزي بانک په بانکي سکتور کې د غوره بانک په توګه ونومول شو. د عزیزي بانک مشرتابه پلاوی او کارکوونکي د دغې لاسته راوړنې په پار د خوښۍ د ښودلو ترڅنګ، له ټولو پېرودونکو او هېوادوالو څخه چې عزیزي بانک یې د غوره بانک په توګه وټاکه، مننه کوي. عزیزي بانک تل هڅه کوي چې خپلو پېرودونکو ته غوره خدمتونه او محصولات وړاندې کړي او د دوی خوښۍ او باور وساتي.

عزیزی بانک
Azizi Bank

## د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بتوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.



1515 www.azizibank.af